## مطبوعاتي اعلامیه

### پاکستاني واکمنان له فرانسې سره درېږي، په داسې حال کې چې د خلیفه عبدالحمید ثاني د واکمنۍ پر مهال فرانسویانو دا جرات نه درلود، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی وکړي

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شیخ رشید احمد د ۲۰۲۱م، د اپرېل په ۱۴مه، د هغو خلکو پر وړاندې سخت دریځ ونیوه، چې له خپل هېواد څخه یې د فرانسې د سفیر د شړلو غوښتنه کوله. نوموړي ادعا وکړه: «موږ ته یوه داسې لار پکار ده، چې په مناسبه توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ پورته کړو؛ خو تاسو هڅه کوئ، چې موږ نړۍ ته د تندلاري دولت په توګه ور وپېژنئ.» په دې توګه د پاکستان حکومت د استعمار نړیوال نظم ته تسلیم شو، هغه نظم چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم برید باید، د بیان ازادۍ تر بیرغ لاندې وزغمل شي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د غربي هېوادونو پر وړاندې د هغه کمزوري دریځ له لارې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپکاوي ملاتړ کوي، د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره جدي اړتیا لیدل کېږي. ان د خلافت په کمزورې دوره کې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه او اطاعت د عثماني خلیفه عبدالحمید ثاني په کړنو کې څرګنده و، چې انګلستان او فرانسه دواړه د هغه وخت لوی نړیوال قدرتونه وو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عزت سپکاوی یې کاوه. دخلافت د وسله والو ځواکونو د جهاد یوازې یو ګواښ د صلیبي یرغلګرو څخه د شیاطینو د وېرولو لپاره کافي و، چې د خلافت تر ړنګېدو پورې یې هېڅکله هم پر وړاندې چا د درېدو جرات نه درلود.

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مسلمانانو!** رژیم د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې له صلیبیانو سره ولاړ دی، په داسې حال کې چې مسلمانان باید له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د تلپاتې مینې پر اساس ولاړ وی. دا له درد څخه ډک حالت به تر هغې پورې دوام مومي، څو چې تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تلپاتې مینې پر اساس د واکمنانو پر وړاندې ونه درېږئ او د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره نصرت ورنه کړئ. انس رضی الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

«**لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ وَأَهْلِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ**»[النسأ]

***ژباړه:*** *ستاسو یو هم تر هغو پورې ربښتینی مومن نه شي کېدای، تر څو پورې چې له خپل پلار، اولاد او ټولو خلکو څخه، هغه صلی الله علیه وسلم ډېر محبوب ونه ګڼئ.*

امام ابو سلیمان الخطابي له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مینې په اړه وایي:

**«فَمَعْنَاهُ لَا تَصْدُقُ فِي حُبِّي حَتَّى تُفْنِيَ فِي طَاعَتِي نَفْسَكَ وَتُؤْثِرَ رِضَايَ عَلَى هَوَاكَ وَإِنْ كَانَ فِيهِ هَلَاكُكَ»**

***ژباړه:*** *تاسو له ما سره په خپله مینه کې تر هغه وخت پورې ربښتیني نه یئ، تر څو زما په اطاعت کې ځان ستړی نه کړئ او زما خوښي پر خپله خوښۍ غوره ونه بولئ، ان که دا ستاسو د مرګ لامل هم شي.*

نو اوس خپل نصرت ورکړئ، تر څو په اخرت کې کامیاب شئ، چې له ټولو کامیابیو څخه غوره ده.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د رمضان ۳مه**

**۲۰۲۱م، د اپرېل ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ٦۴/ ۱۴۴۲**